# دافغانستان اسلامي جمهوریت

## دعدلیې وزارت

# رسمي جریده

- د اوسپنې پټلۍ دقانون په ځینو مادوکې تعدیل اوحذف
- د واټ د ترانسپورت د تنظیم قانون د ځینومادو تعدیل اولغو
- دنباتاتو دساتنې اوقرنطین مقرره
- دلوړو ذده کړومؤسسو دعلمي کادردغړودمعاش اوامتیازونومقرره

- تعدیل وحذف در برخی از مواد قانون خط آهن
- تعدیل ولغو برخی از مواد قانون تنظیم ترانسپورت جاده
- مقررۀ حفاظت نباتات وقرنطین
- مقررۀ معاش وامتیازات اعضای کادرعلمی‌مؤسسات تحصیلات عالی

دخپرېدونېټه:د۱۳۹۸هـ.ش کال د غويي دمیاشتې (۱)
پرله پسې نمبر:(۱۳۴۵)

تاریخ نشر:(۱) ثورسال۱۳۹۸ هـ.ش
نمبر مسلسل:(۱۳۴۵)

د امتیـــاز خاوند: د عدليې وزارت

مسئول چلوونکی: قانونمل محمدرحیم "دقیق"

۰۷۰۰۵۸۷۴۵۷

د دفتر تیلفون: ۰۲۰۲۳۱۴۲۹۸

مهتمم: محمد جان ۰۷۴۷۶۲۷۹۳۰

وب سایت: www.moj.gov.af

قیمت این شماره (به اساس قرارداد): (۲۳,٦۸) افغانی

تیراژ چاپ: (۳۰۰۰) جلد

تعداد صفحات به شمول پشتی: (۷۴ ) صفحه

مطبعه: بهیـــر

آدرس: وزارت عدلیه، ریاست نشرات و ارتباط عامه، سرک(۱۵)وزیرمحمداکبرخان(شیرپور)، کابل

## د نباتاتو د ساتنې او قرنطین مقررې د انفاذ په هکله د افغانستان اسلامي جمهوریت د رئیس حکم

**ګڼه:** (۲۵۱٦)

**نېټه:** ۲۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷

**لومړۍ ماده:**

د نباتاتو د ساتنې او قرنطین مقرره چې د افغانستان اسلامي جمهوریت کابینې د ۱۳۹۷/۱۰/٦ نېټې (۱۸) ګڼه مصوبې پربنسټ د (٦) فصلونو او (۲۸) مادو په دننه کې تصویب شوې ده، منظوروم.

**دوه یمه ماده:**

دغه حکم د افغانستان اسلامي جمهوریت د کابینې له مصوبې او د نوموړې مقررې له متن سره یوځای دې، په رسمي جریده کې خپور شي.

محمد اشرف غني

د افغانستان اسلامي جمهوریت رئیس

## حکم رئیس جمهوری اسلامی افغانستان درمورد انفاذ مقررۀ حفاظت نباتات و قرنطین

**شماره:** (۲۵۱٦)

**تاریخ:** ۱۳۹۷/۱۰/۲۵

**مادۀ اول:**

مقرره حفاظت از نباتات و قرنطین را که به اساس مصوبۀ شماره (۱۸) مؤرخ ۱۳۹۷/۱۰/٦ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان به داخل (٦) فصل و (۲۸) ماده تصویب گردیده است، منظور می‌دارم.

**مادۀ دوم:**

این حکم همراه با مصوبۀ کابینۀ جمهوری اسلامی افغانستان و متن مقررۀ مذکور در جریدۀ رسمی نشر گردد.

محمد اشرف غنی

رئیس جمهوری اسلامی افغانستان

## د نباتاتو د ساتنې او قرنطين مقررې د طرحې په هکله د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې مصوبه

گڼه: (۱۸)

نېټه: ۶/ ۱۰/ ۱۳۹۷

د افغانستان اسلامي جمهوريت کابينې، د نباتاتو د ساتنې او قرنطين مقرره چې د ۱۳۹۷/۱۰/۶ نېټــــې (۱۸) گڼــــه مصوبې پخپله غونډه کې د (۶) فصلونو او (۲۸) مادو په دننه کــــې تصــــويب کړه.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**

## مصوبهٔ کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانستان در مورد طرح مقررهٔ حفاظت نباتات و قرنطین

شماره: (۱۸)

تاریخ: ۱۳۹۷/۱۰/۶

کابینهٔ جمهوری اسلامی افغانســـتان، طرح مقررهٔ حفاظت نباتات و قرنطین را در جلسهٔ شـــماره (۱۸) مـــؤرخ ۱۳۹۷/۱۰/۶ خویش به داخـــل(۶) فصل و (۲۸) ماده مورد تصویب قرار داد.

**محمد اشرف غنی**

**رئیس جمهوری اسلامی افغانستان**

## فهرست مندرجات

## مقررۀ حفاظت نباتات و قرنطین

### فصل اول

### احکام عمومی


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ اول: | مبنی | ۲۵ |
| مادۀ دوم: | اهداف | ۲۵ |
| مادۀ سوم: | اصطلاحات | ۲۵ |


### فصل دوم

### وظایف و مکلفیت های اداره و توریدکنندگان


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ چهارم: | وظایف ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین | ۲۹ |
| مادۀ پنجم: | مکلفیت های ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین | ۳۲ |
| مادۀ ششم: | مکلفیت های تورید کننده | ۳۴ |


### فصل سوم

### تورید و ترانزیت نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده


| ماده | عنوان | صفحه |
|---|---|---|
| مادۀ هفتم: | شرایط تورید | ۳۵ |
| مادۀ هشتم: | تورید نباتات ممنوعه | ۳۷ |
| مادۀ نهم: | صدور اجازه نامه | ۳۸ |
| مادۀ دهم: | میعاد صدور اجازه نامۀ تورید | ۳۹ |
| مادۀ یازدهم: | منع تورید بسته بندی محموله های نباتات | ۳۹ |
| مادۀ دوازدهم: | تورید سایر اقلام تنظیم شده | ۴۱ |
| مادۀ سیزدهم: | تورید جرم پلازم | ۴۳ |

مادۀ چهاردهم: تورید حشرات زنده و کلچرهای میکروبی..............۴۳
مادۀ پانزدهم: شرایط تورید چوب عادی و ساختمانی..................۴۶
مادۀ شانزدهم: شرایط خاص برای تورید ورایتی های نباتی..............۴۷
مادۀ هفدهم: تورید به منظور تحقیقات...........................۴۷
مادۀ هجدهم: صدور حشرات......................................۴۸
مادۀ نزدهم: ترانزیت..............................................۴۸

## فصل چهارم

## تفتیش، تجزیه و تحلیل تصدیق نامه حفظ الصحۀ نباتی

مادۀ بیستم: تفتیش محموله های نباتی...........................۴۹
مادۀ بیست ویکم: اخذ نمونه برای تجزیه و تحلیل لابراتواری..............۴۹
مادۀ بیست و دوم: تصدیقنامۀ حفظ الصحۀ نباتی...........................۵۰

## فصل پنجم

## قرنطین بعد از ورود و قرنطین داخلی

مادۀ بیست و سوم: قرنطین بعد از ورود.......................................۵۱
مادۀ بیست و چهارم: تفتیش و ثبت قوریه های نباتی..........................۵۵
مادۀ بیست و پنجم: اطلاع دهی از بروز آفات نباتی..........................۵۵

## فصل ششم

## احکام نهایی

مادۀ بیست و ششم: اعمار اتاق ضد عفونی.................................۵۶
مادۀ بیست و هفتم: وضع طرزالعمل ها و لوایح...............................۵۷
مادۀ بیست و هشتم: انفاذ..................................................۵۷

## د نباتانو د ساتنې او قرنطين مقرره

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**مبني**

**لومړۍ ماده:**

دغه مقرره د نباتاتو د ساتنې او قرنطين د قانون د څلوېښتمې مادې د حکم له مخې، وضع شوې ده.

**موخې**

**دوه یمه ماده:**

ددې مقررې موخې عبارت دي له:

۱- له آفتونو څخه د نباتاتو وقايه.

۲- د نباتي آفتونو کنترول.

۳- د نباتي آفتونو له خپرېدو څخه مخنيوی او د هغو له منځه وړل.

۴- د نباتاتو د سالمې ودې لپاره د ژوند د مناسب چاپېريال رامنځته کول.

**اصطلاحګانې**

**درېیمه ماده:**

(۱) د نباتاتو د ساتنې او قرنطين قانون

## مقررهٔ حفاظت نباتات و قرنطين

## فصل اول

## احکام عمومی

**مبنی**

**مادهٔ اول:**

اين مقرره به تأسی از حکم مادهٔ چهلم قانون حفاظت نباتات و قرنطين، وضع گرديده است.

**اهداف**

**مادهٔ دوم:**

اهداف اين مقرره عبارت اند از:

۱- وقايه نباتات از آفات.

۲- کنترول آفات نباتی.

۳- جلوگيری از شيوع آفات نباتی و محو آن.

۴- ايجاد محيط زيست مناسب برای رشد سالم نباتات.

**اصطلاحات**

**مادهٔ سوم:**

(۱) اصطلاحات مندرج مادهٔ سوم

په دریيمه ماده کې درج شوې اصطلاحگانې چې په دې مقرره کې یادې شوې دي هماغه مفاهیم افاده کوي.

(۲) په دې مقرره کې راتلونکې اصطلاحگانې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱- د بیولوژیکي کنترول عامل: حشرات او نور گټور ژوندي موجودات دي چې په طبیعي ډول د آفت هلاک کوونکی یا مهاروونکی دی چې د نباتي آفت د کنترول په غرض کارول کېږي.

۲- د محمولې ترخیص: هغه لیکلی سند دی چې د نباتي روغتیا ساتنې (حفظ الصحې) د مقرراتو له پلتنې او د محمولې له مطابقت څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته د نباتي قرنطین د موظفینو په واسطه تفریق کړی او مالک ته یې ورکول کېږي.

۳- امتعه: نبات، نباتي محصول یا نور تنظیم شوي اقلام دي چې د سوداگرۍ یا نورو موخو په منظور، د قانون له حکمونو سره سم، لېږدول کېږي.

۴- مبداء هېواد: هغه هېواد دی چې

قانون حفاظت نباتات و قرنطین که در این مقرره ذکر گردیده همان مفاهیم را افاده می نماید.

(۲) اصطلاحات آتی در این مقرره مفاهیم ذیل را افاده می نماید:

۱- عامل کنترول بیولوژیکی: حشرات و سایر موجودات زنده مفیده است که بطور طبیعی هلاک کننده یا مهار کننده آفت بوده که غرض کنترول آفت نباتی به کار می رود.

۲- ترخیص محموله: سند کتبی است که توسط مؤظفین قرنطین نباتی بعد از تفتیش و حصول اطمینان از مطابقت محموله با مقررات حفظ الصحۀ نباتی، تفریق نموده و به مالک آن اعطاء می گردد.

۳- امتعه: نبات، محصول نباتی یا سایر اقلام تنظیم شده است که به منظور تجارت یا سایر اهداف، طبق احکام قانون، انتقال می گردد.

۴- کشور مبداء: کشوری است که

نبات، نباتي محصول او نور تنظيم شوي اقلام په هغه کې تولید شوي وي.

۵- د محمـــولې واردول: د رســـمي بندرونو له لارې هېـــواد تـــه دننـــه د محمولې واردول دي.

٦- د پلازم جرم: د نباتي هغې نطفې د توارث برخه چې په نسل اخيستنې يـــا ساتنيزو برنامو کې د کتې اخيستنې په مقصد کارول کېږي.

۷- اجازه ليک: هغه ليکلی ســـند دی چې د نباتاتو، نباتي محصولاتو او ددې مقررې له حکمونو سره سم د نبـــاتي روغتيا ساتنې د واردولو له ځـــانګړو شرايطو سره د نورو تنظيم شوو اقلامو د واردېدو په منظور، د کرنې، اوبـــو لګولو او مالـــــــدارۍ وزارت لخوا، صادرېږي.

۸- پلټوونکی: هغه شخص دی چې د نباتاتو د ساتنې او قرنطين د ادارې لخوا د نباتاتو د پلټنې په غرض توظيف شوی وي.

۹- عصري بيوتکنالوژي: لـــه عرفـــي تګلارو څخه مغاير له نوو تګلارو څخه

نبات، محصول نباتی و سایر اقلام تنظیم شده در آن تولید شده باشد.

۵- ورود محموله: تورید محموله بـــه داخل کشور از طریق بنـــادر رســـمی می باشد.

٦- جرم پلازم: قسمت توارث نطفـــهٔ نباتی کـــــه به مقصد استفاده در نسل گیری یا برنامه های تحفظی به کـــار می رود.

۷- اجازه نامه: ســـند کتبـــی اســـت کـــه بـــه منظـــور توریـــد نباتـــات، محصـــولات نبـــاتی و ســـایراقلام تنظـــیم شـــده بـــا شـــرایط ورودی مشخص حفظ الصحهٔ نبـــاتی مطـــابق احکام این مقـــرره از طـــرف وزارت زراعت، آبیاری و مالـــداری صـــادر می گردد.

۸- مفتش: شخصی است که از طرف ادارهٔ حفاظـــت نباتـــات و قـــرنطین غرض تفتیش نباتات توظیـــف شـــده باشد.

۹- بیوتکنالوژی عصری: پرورش انواع جدید نباتات با استفاده از روش های

په ګټه اخيستنې سره د نباتاتو د نـــوو ډولونو پالنه ده.

۱۰- ارګانيزم: هر هغه ډول ژونـــدی موجود چې په خپل طبيعي وضعيت کې د مثل په تکثير يا توليد برلاسی وي.

۱۱- قرنطين: پلټنه، ازماينبت، معاينه او نور هغه اقدامات چې لازم وي پـــه منظور په ځانګړي ځای کې د نباتاتو، د نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شـــوو اقلامو حفظ او ساتنه.

۱۲- قرنطيني ساحه: هغه ځای دی چې په دننه کې يې قرنطيني آفت موجود وي او په رسمي ډول کنترول کېږي.

۱۳- قرنطيني تأسيسات: هغه ځای دی چې تر قرنطين لاندې نباتـــات، نبـــاتي محصولات او نور تنظيم شوي اقلام په هغه کې ساتل کېږي.

۱۴- درملنه: منل شوې تګـــلارې دي چې د نباتي آفتونو د له منځه وړلو، غير فعالولو، لرې کولو، شنډولو(عقيم ولو) يا له کار څخه د غورځولو په غـــرض کارول کېږي.

(۳) د بين المللي معيارونو د لاربنود، د

جديـــد مغـــاير روش هـــای عرفـــی می باشد.

۱۰- ارگانيزم: هر نوع موجود زندۀ که قادر به تکثر يـــا توليـــد مثـــل در وضيعت طبيعی خود باشد.

۱۱- قرنطين: حفـــظ و نگهداشـــت نباتات، محصولات نباتی و ساير اقلام تنظيم شده در محل مخصوص به منظور تفتيش، آزمايش، معاينه و ساير اقداماتی که لازم می باشد.

۱۲- ساحه قرنطينی: محلی است که داخل آن آفت قرنطينی موجود بوده و به طور رسمی کنترول می شود.

۱۳- تأسيسات قرنطينی: محلی است که نباتات، محصولات نباتی و ســـاير اقلام تنظيم شده تحت قـــرنطين در آن نگهداری می شود.

۱۴- تداوی: روش های قبول شـــده است که غرض از بين بردن، غير فعال ساختن، دور ساختن، عقيم ساختن يا از کار انـــداختن آفـــات نبـــاتی بکـــار می رود.

(۳) ســـاير اصـــطلاحات تخنيکـــی

نباتي روغتيا ساتنې د تدبيرونو او د نباتاتو د ساتنې له بين المللي کنوانسيون سره سم، د نباتي قرنطين په څانګې پورې اړوند نورې تخنيکي اصطلاحګانې، په جلا کړنلاره کې ترتيب او د ورځې له غوښتنو(مقتضياتو) سره سم، نوې کېږي.

## دوه يم فصل

## د ادارې او واردوونکو دندې او مکلفيتونه

د نباتاتو د ساتنې او قرنطين ادارې دندې

څلورمه ماده:

د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره، د لاندې دندو لرونکې ده:

۱- د هغو نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو د واردېدو د هغه اجازه ليک د غوښتنليک د فورم برابرول او ترتيبول چې د کښت، تکثير، لګښت او د نباتاتو د ساتنې او قرنطين په قانون کې د درج شوو نورو

مربوط به بخش قرنطين نباتی مطابق رهنمود معيارهای بين المللی تدابير حفظ الصحهٔ نباتی و کنوانسيون بين المللی حفاظت نباتات، در طرزالعمل جداگانه ترتيب و مطابق مقتضيات روز، تجديد می گردد.

## فصل دوم

## وظايف و مکلفيت های اداره و توريد کنندگان

وظايف ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطين

مادهٔ چهارم:

ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطين دارای وظايف ذيل می باشد:

۱- تهيه و ترتيب فورم درخواست اجازه نامهٔ توريد نباتات، محصولات نباتی و ساير اقلام تنظيم شده که جهت کشت، تکثير، مصرف و ساير مقاصد مندرج قانون حفاظت نباتات

مقصدونو لپاره ترګټي اخيستنې لاندې نيول کېږي.

۲- د خاک پیت او نورو اړوندو کرنيزو موادو د واردېدو د اجازه لیک د غوښتنلیک فورم برابرول او ترتیبول.

۳- د الجيو په ګډون د حشراتو، خسکونو، سپړو(کنو)، چینجیو (نیماتودونو) او د مایکروسکوبي ژونديو موجوداتو کښت(کلچر) د واردېدو د اجازه لیک د غوښتنلیک فورم برابرول او ترتیبول چې د بیولوژیکي کنترول د لاملونو په توګه تر ګټې اخیستنې لاندې نيول کېږي.

۴- د نباتاتو، نباتي محصولاتو او له قرنطیني دستګاه څخه د نورو تنظیم شوو اقلامو د محمولو د وتلو د اجازه لیک د غوښتنلیک د فورم برابرول او ترتیبول چې تر پلټنې، ضد عفوني یا درملنې لاندې وي.

۵- له واردولو څخه وروسته د قرنطیني محلاتو د تصدیق لیک د صادرېدو په غرض د غوښتنلیک فورم برابرول او ترتیبول.

و قرنطین مورد استفاده قرار می گیرد.

۲- تهیه و ترتیب فورم درخواست اجازه نامه تورید خاک پیت و سایر مواد زراعتی مربوط.

۳- تهیه و ترتیب فورم درخواست اجازه نامه تورید حشرات، خسک ها، کنه ها، نیماتودها و کشت (کلچر) موجودات زنده مایکروسکوبی بشمول الجی ها که به حیث عوامل کنترول بیولوژیکی مورد استفاده قرار می‌گیرند.

۴- تهیه و ترتیب فورم درخواست اجازه نامه خروج محموله های نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده از دستگاه قرنطینی که مورد تفتیش، ضد عفونی یا تداوی قرار گرفته اند.

۵- تهیه و ترتیب فورم درخواست غرض صدور تصدیقنامه محلات قرنطینی بعد از ورود.

۶- د واردولو د اجازه لیک صادرول.

۷- په هېواد کې د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو او تولید شوو اقلامو د صادرېدو په غرض د نباتي روغتیا ساتنې د تصدیق لیکونو صادرول.

۸- د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نور تنظیم شوي اقلام چې د هغو لرونکې محمولې د مبدأ هېواد پرته له افغانستان څخه دي او د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداري پلټوونکي پواسطه ، پلټل او تائید شوی وي د بیا صادرېدو په غرض د نباتي روغتیا ساتنې د تصدیق لیکونو صادرول.

۹- د نباتاتو، نباتي محصولاتو او په عادي او اضطراري حالتونو کې، د کورني قرنطین بېلا بېلو مقصدونو ته د نورو تنظیم شوو اقلامو د لېږدونې په غرض د نباتي روغتیا ساتنې د تصدیق لیکونو ورکول.

۶- صدور اجازه نامه تورید.

۷- صدور تصدیق نامه های حفظ الصحۀ نباتی غرض صدور نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده و تولید شده در کشور.

۸- صدور تصدیقنامه های حفظ الصحۀ نباتی غرض صدور مجدد نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده که محموله های حاوی آنها از کشور مبدأ غیر از افغانستان بوده و توسط مفتش ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین، تفتیش و تائید شده باشد.

۹- اعطای تصدیقنامه های حفظ الصحۀ نباتی غرض انتقال نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده به مقاصد مختلف قرنطین داخلی، در حالات عادی و اضطراری.

## د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداري مكلفيتونه

**پنځمه ماده:**

(۱) د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره مكلفه ده لاندې موارد د ورځــې لــه غوښتنو سره سم، اصلاح او بيا وګوري او عامه اطلاع ته يې ورسوي:

۱- په هېواد كې د تنظيم شوي قرنطيني نباتي آفتونو ليست.

۲- د هغو نباتاتو ليســت چــې پــه افغانستان كې د بې ګټې ګياه په توګه پېژندل كېږي.

۳- په هېواد كــې د نباتــاتو، نبــاتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو د واردېدو د نقطو ليست.

۴- د هغو ګدامونو ليست چې په هغو كې نباتات، نباتي محصولات او نــور تنظيم شوي اقلام د حمل او نقــل پــه غرض ساتل كېږي.

۵- د هغو معتبرو كورنيو او بهرنيــو لابراتوارونو ليست چې د نباتي آفتونو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شــوو

## مكلفيت های ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطين

**مادهٔ پنجم:**

(۱) ادارهٔ حفاظت نباتات و قــرنطين مكلف است موارد ذيــل را مطــابق مقتضيات روز، اصلاح و تجديد نظــر نموده و به اطلاع عامه برساند:

۱- ليست آفات نباتی قرنطينی تنظيم شده را در كشور.

۲- ليست نباتاتی را كه در افغانستان بــه حيــث گيــاه هــرزه شــناخته می شود.

۳- ليست نقــاط ورودی نباتــات، محصولات نباتی و ساير اقلام تنظــيم شده را در كشور.

۴- ليست گــــدام های كــه در آن نباتات، محصولات نباتی و ساير اقلام تنظيم شده راغــرض حمــل و نقــل نگهداری می شود.

۵- ليست لابراتوارهــای داخلــی و خارجی معتبر را كه بــرای تشــخيص آفات نباتی، محصولات نباتی و ســاير

اقلامو د تشخیص لپاره، تر ګټې اخیستنې لاندې نیول کېږي.

٦- د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو لیست چې هېواد ته د هغو واردېدل مجاز دي.

۷- دنباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو لیست چې هېواد ته د هغو واردېدل مجاز ندي.

(۲) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره مکلفه ده، له هغو اجراآتو څخه چې د ضد عفوني جوړونې په خونوکې صورت مومي څارنه وکړي او لاندې موارد ترسره کړي:

۱- د کیمیاوي توکو د درست دوز د نوعیت او ګټې اخیستنې تأیید.

۲- له دې څخه د ډاډ ترلاسه کول چې درملنه د هغې په ټاکلي وخت کې صورت موندلی او د پام وړ نباتي آفت له منځ څخه تللی دی.

۳- د درملنې له اغېزمنتوب څخه تأیید.

اقلام تنظیم شده، مورد استفاده قرار می گیرد.

٦- لیست نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را که تورید آنها به کشور مجاز است.

۷- لیست نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را که تورید آنها به کشور مجاز نیست.

(۲) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است، از اجراآتی که در اتاق های ضد عفونی سازی صورت می گیرد نظارت نموده و موارد ذیل را انجام دهد:

۱- تأیید نوعیت و استفادهٔ درست دوز مواد کیمیاوی.

۲- حصول اطمینان از این که تداوی در زمان معینه آن صورت گرفته و آفت نباتی مورد نظر از بین رفته است.

۳- تأیید از مؤثریت تداوی.

## د واردوونکي مکلفيتونه

**شپږمه ماده:**

د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو واردوونکی يا د هغه استازی، د لاندې مکلفيتونو لرونکی دی:

۱- د واردېدو د اجازه ليک د اخيستلو په غرض د غوښتنليک وړاندې کول.

۲- د نباتاتو د ساتنې او قرنطين ادارې ته د توريدي محمولې په هکله د معلوماتو وړاندې کول.

۳- نباتي قرنطين يا د پلټنې، ضد عفوني جوړونې ځايونو يا د نباتاتو د ساتنې او قرنطين د ادارې له لزوم ديد سره سم، د درملنې دستګاوو ته د محمولو لېږدول.

۴- د لابراتواري پلټنې او څېړنو لپاره د نمونې د اخيستلو په برخه کې له پلټوونکي سره همکاري او په دې برخه کې د لازمو آسانتياوو برابرول.

۵- د ضد عفوني جوړونې په ځايونو کې د محمولو پرانېستل، دوه يم ځل

## مکلفيت های تورید کننده

**مادهٔ ششم:**

تورید کننده نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده یا نمایندهٔ وی، دارای مکلفیت های ذیل می باشد:

۱- ارائه درخواست غرض اخذ اجازه نامه تورید.

۲- ارائه معلومات در مورد محمولهٔ توریدی به ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین.

۳- انتقال محموله ها به دستگاه های قرنطین نباتی یا محلات تفتیش، ضد عفونی سازی یا تداوی طبق لزوم دید ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین.

۴- همکاری با مفتش در زمینه اخذ نمونه برای تفتیش و تحقیقات لابراتوری و فراهم آوری تسهیلات لازم در زمینه.

۵- باز کردن، بسته بندی دوباره، بارکردن یا تخلیه نمودن محموله ها در

بسته بندي، بارول یا تشه ول او د هغو مهرول.

۶- د واردوونکي په لګښت، د نباتاتو د ساتنې او قـرنطین اداري لخـوا د مستردولو په صورت کې مبدأ هېواد ته د محمولو بېرته ګرځول یا د هغو لـه منځه وړل.

۷- د نباتاتو د ساتنې او قـرنطین پـه قانون کې درج شوي نور مکلفیتونه.

## دریم فصل

## د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو واردول او ترانزیت

### د واردولو شرایط

اوومه ماده:

(۱)اجازه لیک لرونکی مکلف دی، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین په قانون کې پر درج شوو شرایطو برسبره، د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سره، د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شـوو اقلامو په واردېدو لاس پورې کړي:

مکان های ضد عفونی سازی و مهـر آنها.

۶- برگشتاندن محموله ها به کشـور مبدأ یا محو آنها در صورت مسـترد نمودن از طرف ادارۀ حفاظت نباتات و قـرنطین بـه مصـرف توریـد کننده.

۷- سایر مکلفیت های مندرج قانون حفاظت نباتات و قرنطین.

## فصل سوم

## تورید و ترانزیت نباتات، محصولات نباتی و سایراقلام تنظیم شده

### شرایط تورید

مادۀ هفتم:

(۱) دارندۀ اجازه نامه مکلف اسـت علاوه بر شرایط مندرج قانون حفاظت نباتات و قرنطین بـا درنظرداشـت شرایط ذیـل بـه توریـد نباتـات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظـیم شده مبادرت ورزد:

۱- له آفتونو او نباتي ناروغیو څخه پاکوالی.
۲- له هغو موادو څخه پاکوالي چې د نباتي آفت د کنترول لپاره بیولوژیکي خنډ ګڼل کېږي.
(۲) د نباتانو د ساتنې او قرنطین اداره کولی شي، ددې مادې په (۱) فقره کې پر درج شوو شرایطو برسېره، له احوالو سره سم، نور هغه شرایط هم وضع کړي چې سوداګریز خنډ ونه ګڼل شي.
(۳) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې پلټوونکي، نباتات، نباتي محصولات او نور هغه تنظیم شوي اقلام چې هېواد ته له ټاکلو بندرونو څخه واردېږي، له تشونې مخکې، وپلټي.
(۴) که چېرې ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوي نباتات، نباتي محصولات او نور تنظیم شوي اقلام له نباتي آفتونو څخه پاک قرنطیني شوي وي، په ټاکلي ځای کې، تشېږي.
(۵) که چېرې د پلټنې په بهیر کې معلوم شي چې د واردېدو د محمولې ټوله یا یوه برخه په نباتي آفت ککړه

۱- عاری بودن از آفات و امراض نباتی.
۲- عاری بودن از موادی که مانع بیولوژیکی برای کنترول آفت نباتی محسوب می شوند.
(۲) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین می تواند، علاوه بر شرایط مندرج فقره (۱) این ماده سایر شرایط را حسب احوال که مانع تجارتی محسوب نشود، نیز وضع نماید.
(۳) مفتشین ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین، نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را که از بنادر معین به کشور وارد می گردد، قبل از تخلیه، تفتیش نمایند.
(۴) هرگاه نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده مندرج فقره (۳) این ماده عاری از آفات نباتی قرنطینی باشد، در محل معینه، تخلیه می گردد.
(۵) هرگاه در جریان تفتیش معلوم گردد که تمام یا بخشی از محموله توریدی ملوث به آفت نباتی می باشد،

وي، پدې هکله، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین د قانون د اوولسمې مادې له حکم سره سم، اجراآت صورت مومي.

(٦) په تولید، کارونې، واردولو، صادرولو او ساتنې پورې له اړوندو معیارونو سره سم، د نوی بیوتکنالوژۍ په واسطه نباتات، نباتي محصولات او نور تنظیم شوي اقلام یا تولید شوي ژوندي موجودات، تر بررسۍ او پلټنې لاندې ونیسي.

(۷) د ریښه لرونکو ژوندیو نباتاتو محمولې په هغه صورت کې هېواد ته واردېدای شي چې د هغو ریښې ښکاره(عریانې) وي یا د کروندو په منځ کې شنډې(تعقیم) شوې وي.

## د ممنوعه نباتاتو واردول

**اتمه ماده:**

(۱) هېڅ یو شخص نشي کولی، د اجازه لیک له لرلو پرته، ممنوعه نباتات، نباتي محصولات او نور تنظیم شوي اقلام هېواد ته وارد کړي.

(۲) که چېرې د نباتي آفتونو د خطر له

در مورد مطابق حکم ماده هفدهم قانون حفاظت نباتات و قرنطین اجراآت صورت می گیرد

(٦) نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده یا موجودات زنده تولید شده توسط بیوتکنالوژی جدید، مطابق با معیار های مربوط به تولید، کاربرد، تورید، صدور و نگهداری، مورد بررسی و تفتیش قرار می گیرد.

(۷) محموله های نباتات زندهٔ ریشه دار در صورتی به کشور وارد شده می تواند که ریشه های آن عریان بوده یا در وسط زرعیه تعقیم شده باشد.

## تورید نباتات ممنوعه

**مادهٔ هشتم:**

(۱) هیچ شخص نمی تواند بدون داشتن اجازه نامه، نباتات و محصولات نباتی یا سایراقلام تنظیم شدهٔ ممنوعه را به کشور وارد نماید.

(۲)هرگاه بعد از تجزیه و تحلیل خطر

تجزيې او تحليل څخه وروسته، ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوی اجازه ليک، غوښتونکي ته صادرکړي، پدې صورت کې د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره مکلفه ده، غوښتونکي ته د واردېدو په غرض ځانګړي شرايط مشخص کړي.

## د اجازه ليک صادرول

نهمه ماده:

د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره مکلفه ده ، د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو د واردېدو اجازه ليک په څلورو نقلونو کې ترتيب او صادر کړي، يو نقل يې صادروونکي ته وړاندې کړي او ګڼه يې د نباتي روغتيا ساتنې په تصديق ليک کې چې د صادروونکي هېواد په واسطه ترتيب شوې، درج کړي، د هغې پاتې شوي درې نقلونه، د ادارې او واردوونکي له اړتيا سره سم، تر ګټې اخيستنې لاندې ونيسي.

آفات نباتی، اجازه نامۀ مندرج فقره (۱) این ماده به متقاضی صادر گردد، در این صورت اداره حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است، شرایط خاص را غرض تورید به متقاضی مشخص نماید.

## صدور اجازه نامه

مادۀ نهم:

ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است، اجازه نامه تورید نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را در چهار نقل ترتیب و صادر نموده، یک نقل آن را برای صادرکننده ارایه و شماره آنرا در تصدیقنامه حفظ الصحۀ نباتی که توسط کشور صادر کننده، ترتیب گردیده درج نماید، سه نقل متباقی آن طبق ضرورت اداره و تورید کننده مورد استفاده قرار می گیرد.

**د واردولو د اجازه لیک د صادرېدو میعاد**

**لسمه ماده:**

د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره مکلفه ده، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین د قانون په لسمه ماده کې د درج شوو شرایطو په پام کې نیولو سره، د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو د واردېدو اجازه لیک د غوښتنلیک له رارسېدو څخه وروسته تر لسو کاري ورځو پورې غوښتونکي ته صادر کړي.

**د نباتاتو د محمولو د انډې(بستـه بندۍ) د واردېدو منع**

**یوولسمه ماده:**

(۱) هېڅ شخص نشي کولی، د هغو نباتاتو ، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو محمولې چې په لرګي بسته بندي شوی وي ، هېواد ته وارد کړي، خو دا چې د نباتي روغتیا ساتنې د بین المللي معیارونو له هدایاتو سره سم (ISPM −۱۵) په اساسي صورت سره

**میعاد صدور اجازه نامۀ تورید**

**مادۀ دهم:**

اداره حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است، با درنظرداشت شرایط مندرج مادۀ دهم قانون حفاظت نباتات و قرنطین به متقاضی، اجازه نامه تورید نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را بعد از وصول درخواست الی ده روزکاری، صادر نماید.

**منع تورید بسته بندی محموله های نباتات**

**مادۀ یازدهم:**

(۱) هیچ شخص نمی تواند محموله های نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را که با چوب بسته بندی شده باشد، به کشور وارد نماید، مگر اینکه طبق هدایات معیار های بین المللی حفظ الصحۀ نباتی (ISPM-۱۵) به صورت اساسی

تداوي شوی وي.

(۲) د نباتي روغتيا ساتنې د بين المللي معيارونو (ISPM – ۱۵) له هـداياتو سره سم د صادراتي نباتـاتو، نبـاتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو د محمولو لپاره د چوبي بسـته بنـدی تداوي چې په جـلا کـړنلاره کـې تنظيمېږي، صورت مومي.

(۳) که چېرې ددې مادې په (۱) فقره کـې د درج شـوو نباتـاتو، نبـاتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامـو هغه محمولې چې په لرګي بسته بنـدي شوې وي او د نباتي روغتيـا سـاتنې د بين المللي معيارونو (ISPM – ۱۵) له هداياتو سره سم په اساسي صـورت تداوي نشي يا هم د نباتي روغتيا ساتنې تصديق ليک ونلري، د زيانمنو اقلامـو په نامه ګڼل کېږي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداري پلټوونکی د هغې په هکله لازم تدبيرونه نيسي او تعميل کېږي.

(۴) د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو محمولې هغه وخت ګمرک ته د ننوتلو او وتلـو اجـازه

تداوی گردیده باشد.

(۲) تداوی بسته بندی چـوبی بـرای محموله های نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده صادراتی طبق هدایات معیـار هـای بـین المللـی حفظ الصحهٔ نباتی (ISPM-۱۵) کـه در طـرز العمـل جداگانـه تنظـیم می گردد، صورت می گیرد.

(۳) هرگاه محموله هـای نباتـات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظـیم شده مندرج فقرهٔ (۱) این ماده که بـا چوب بسته بندی شده باشد و طبـق هدایات معیـار هـای بـین المللـی حفظ الصـحهٔ نباتی (ISPM-۱۵) به صورت اساسی تداوی نگردیده یا هم تصدیقنامه حفظ الصحهٔ نباتی نداشـته باشد، بعنوان اقلام مضـر محسـوب شده، مفتش ادارهٔ حفاظت نباتـات و قرنطین در مورد آن تدابیر لازم اتخاذ و تعمیل می گردد.

(۴) محموله های نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده زمـانی اجازه ورود و خروج را از گمـرک

ترلاسه کوي چې ددې مادې پــه (۳) فقره کې د درج شوي حکم له رعايتولو څخه ډاډ ترلاسه شوی وي.

(۵) هېڅ شــخص نشــي کــولی، د هغونباتاتو، نباتي محصولاتو او نـــورو تنظيم شوو اقلامو محمولې چې د وچو وښو يا بوسو په واسطه بسته بندي شوي وي، هېواد ته وارد کړي.

(٦) په دې مــاده کــې درج شــوي حکمونه پر هغو بسته بنديو د تطبيق وړ ندي چې له پلاستيک، کارتن، د لرګي د پروسس شوي محصـــولات او نـــور جوړشوي ورته حالتونه يا هغه چـــوبي بسته بندي چې د مسافرو پــه لاســـي بکسونو کې پکار وړل کېږي.

<u>د نورو تنظيم شوو اقلامو واردول</u>

**دوولسمه ماده:**

(۱) هېواد ته د خاورې واردول يوازې د څېړنې د مقصدونو لپــاره صــورت مومي.

(۲) د نباتـــاتو لپـــاره د کمپوســـت (Compost)، خاک پيت(Peat) او يا

حاصل می نماید که از رعایت حکــم مندرج فقرهٔ (۳) این ماده، اطمینـــان حاصل گردیده باشد.

(۵) هـــیچ شـــخص نمـــی توانـــد محموله های نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را که توســـط علف خشک یا کاه بسته بندی شـــده، به کشور وارد نماید.

(٦) احکام مندرج این ماده بر بســـته بندی های که از پلاستیک، کـــارتن، محصولات پروسس شدهٔ چوب و سایر حالات مشابه ساخته شده یا بسته بندی چوبی که در بکـــس هـــای دســـتی مسافرین بکار می رود قابـــل تطبیـــق نمی باشد.

<u>تورید سایر اقلام تنظیم شده</u>

**مادهٔ دوازدهم:**

(۱) تورید خاک به کشور صرف برای مقاصـــــد تحقیـــــق صـــــورت می گیرد.

(۲) توریـــد کمپوست (Compost)، خاک پیت (Peat) و یا خزهٔ سفگنوم

سفگنوم خزې(Sphagnum) او نورو نمونه يې توکو واردول په هغو کې د نباتي آفت د نه شتون د تصديق ليک له وراندې کولو څخه وروسته، هېواد ته صورت موندلی شي.

(۳) ددې مادې په (۱ او ۲) فقره کې د درج شوو اقلامو د واردولو لپاره غوښتنليک، د هغه له ټاکلي فيس سره يو ځای، د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداري ته وړاندې کېږي.

(۴) ددې مادې په (۳) فقره کې درج شوی غوښتنليک په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي او د وړاندې کولو له نېټې څخه د يوهٔ کال تر مودې پورې د باور وړ دی.

(۵) د نباتاتو د ساتنې او قرنطين اداره د غوښتنليک د بررسۍ او ددې مادې په (۱ او ۲) فقرو کې په درج شوو اقلامو کې د نباتي آفت له نه شتون څخه د ډاډ له ترلاسه کولو وروسته، د محمولو د واردولو په وخت کې، د واردېدو اجازه ليک له جلا فورم سره سم، صادروي.

(Sphagnum) و ساير مواد نمويی برای نباتات بعد از ارايه تصديق نامه عدم موجوديت آفت نباتی در آن، به کشور صورت گرفته می تواند.

(۳) درخواست جهت توريد اقلام مندرج فقره های (۱ و ۲) اين ماده، همراه با فيس معينه آن، به ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطين ارايه می گردد.

(۴) درخواست مندرج فقرهٔ (۳) اين ماده در فورمه جداگانه تنظيم گرديده و از تاريخ ارايه الی مدت يکسال مدار اعتبار می باشد.

(۵) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطين بعد از بررسی درخواست و حصول اطمينان از عدم موجوديت آفت نباتی در اقلام مندرج فقره های (۱) و (۲) اين ماده، حين ورود محموله ها، اجازه نامه توريد را طبق فورم جداگانه، صادر می نمايد.

## د پلازم جرم واردول

**دیارلسمه ماده:**

(۱) د هغې نباتي پلازم جرم محمولې چې د نوي بیوتکنالوژیکي تجهیزاتو پواسطه، تولید شوې، د هغې واردول یوازې د کرنیزو څېړنو یا تجربوي مقصدونو لپاره، د افغانستان د کرنیزو څېړنو د انستیتوت د ادارې د اجازې له ترلاسه کولو وروسته، صورت موندلی شي.

(۲) ددې مادې په (۱) فقره کې درج شوې محمولې په بسته بندي ډول د واردولو(گمرک) ځای کې د افغانستان د کرنیزو څېړنو د انستیتوت استازي ته سپارل کېږي.

## د ژوندیو حشراتو او میکروبي کلچرونو واردول

**څوارلسمه ماده:**

(۱) هېڅ شخص نشي کولی، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین له ادارې څخه د اجازه لیک له ترلاسه کولو پرته،د ژوندیو حشراتو، میکروبي کلچرونو

## تورید جرم پلازم

**مادۀ سیزدهم:**

(۱) محموله های جرم پلازم نباتی که بواسطۀ تجهیزات بیو تکنالوژیکی جدید تولید گردیده، تورید آن صرف برای تحقیقات زراعتی یا مقاصد تجربوی، بعد از کسب اجازۀ اداره انستیتوت تحقیقات زراعتی افغانستان، صورت گرفته می تواند.

(۲) محموله های مندرج فقرۀ (۱) این ماده طور بسته بندی شده در محل ورود (گمرک) به نمایندۀ انستیتوت تحقیقات زراعتی افغانستان تحویل داده می شود.

## تورید حشرات زنده وکلچرهای میکروبی

**مادۀ چهاردهم:**

(۱) هیچ شخص نمی تواند محمولۀ حشرات زنده، کلچرهای میکروبی یا عوامل کنترول بیولوژیکی را بدون کسب اجازه نامه از اداره حفاظت

محموله یا د بیولوژیکي کنترول لاملونه هېواد ته واردکړي.

(۲) د ژوندیو حشراتو، میکروبي کلچرونو او د بیولوژیکي کنترول د لاملونو محمولې یوازې د مشخصو بندرونو (ګمرکي قلمرو) له لارې، واردېږي.

(۳) د الجیو یا د بیولوژیکي کنترول د لاملونو په ګډون د ژوندیو حشراتو، میکروبي کلچرونو د واردېدو د اجازه لیک لپاره غوښتنلیک، له واردولو څخه (۱۰) ورځې مخکې، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې ته وړاندې کېږي.

د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره له بررسۍ وروسته د واردېدو د موخې او شرایطو د ټاکلو په موخه، ددې مادې په (۲) فقره کې د درج شوو واردولو اجازه لیک په دریو نقلونو کې، صادروي.

(۴) د مفیده حشراتو محموله هغه وخت هېواد ته واردېدای شي چې د هغې مبدأ هېواد د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې له تصدیق لیک سره یو

نباتات و قرنطین، به کشور وارد نماید.

(۲) محموله های حشرات زنده، کلچرهای میکروبی و عوامل کنترول بیولوژیکی تنها از طریق بنادر (قلمرو گمرکی) مشخص، تورید می گردد.

(۳) درخواست برای اجازه نامهٔ تورید حشرات زنده، کلچرهای میکروبی بشمول الجی ها یا عوامل کنترول بیولوژیکی، ۱۰ روز قبل از تورید، به ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین ارایه می گردد.

ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین بعد از بررسی هدف تورید و تعیین شرایط، اجازه نامهٔ تورید مندرج فقرهٔ (۲) این ماده را در سه نقل صادر می نماید.

(۴) محمولهٔ حشرات مفیده زمانی به کشور وارد شده می تواند که همراه با تصدیق نامهٔ ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین کشور مبداء

ځای وي. او له مشخصو پرازيتونو او پارازيتودونو او د بيولوژيکي کنترول له لاملونو څخه پاک يا هايپر پارازيت وي.

(۵) د مفيده حشراتو محموله ، د بيولوژيکي کنترول لاملونه له واردېدو څخه وروسته د قرنطين تابع دي چې د نباتاتو د ساتنې او قرنطين ادارې پواسطه ټاکل کېږي.

(٦) د کلکسيونونو يا علمي بررسيو لپاره د مړو يا پرس شوو حشراتو واردول په هغه صورت کې چې ضد عفوني شوي وي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطين ادارې له موافقې وروسته صورت مومي.

(۷) بيولوژيکي کلچرونه چې د څېړنو په منظور، واردېږي. پدې ماده کې له درج شوي حکم څخه مستثني دي.

آن بوده و عاری از پرازيت و پارازيتويد های مشخص و عوامل کنترول بيولوژيکی يا هايپر پارازيت باشد.

(۵) محمولۀ حشرات مفيده، عوامل کنترول بيولوژيکی بعد از تورید تابع قرنطين می باشد که توسط ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطين تعيين می گردد.

(٦) توريد حشرات مرده يا پرس شده برای کلکسيون ها يا بررسی های علمی در صورتی که ضدعفونی شده باشد، بعد از موافقۀ ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطين صورت می گيرد.

(۷) کلچرهای بيولوژيکی که به منظور تحقيقات توريد می گردد، از حکم مندرج اين ماده مستثنی می باشد.

## د عادي او ساختماني لرګي د واردولو شرایط

**پنځلسمه ماده:**

(۱) اجازه لیک لرونکی شخص کولی شي، د سون یا ساختماني یا صنعتي لرګی د لاندې شرایطو په پام کې نیولو سره، هېواد ته وارد کړي:

۱- پوست لرونکی لرګی پدې شرط چې د صادروونکي هېواد روغتیایي تصدیق لیک ولري او د ساتنې او قرنطین ادارې هغه تائید کړی وي.

۲- صنعتي لرګي او اره شوي لرګي(له پوست پرته) پداسې ډول چې ضد عفوني شوي وي چې د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې د تائید وړ وي او د صادروونکي هېواد د نباتي روغتیا ساتنې په تصدیق لیک کې، یاد شوي وي.

(۲) پدې ماده کې درج شوي حکمونه د څولا تختې، براده یي تختې، فارمیکا تختې له ډلې څخه د پروسس شوي چوبي موادو محمولو باندې چې له

## شرایط تورید چوب عادی و ساختمانی

**مادۀ پانزدهم:**

(۱) شخص دارای اجازه نامه می تواند چوب سوخت یا ساختمانی یا صنعتی را با نظرداشت شرایط ذیل به کشور وارد نماید:

۱- چوب های پوست دار مشروط بر اینکه تصدیقنامه حفظ الصحۀ نباتی کشور صادر کننده، را داشته و اداره حفاظت و قرنطین آن را تائید نموده باشد.

۲- چوب های صنعتی و چوب های اره شده (بدون پوست) طوری ضد عفونی شده باشند که قابل تائید ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین بوده و در تصدیقنامه حفظ الصحۀ نباتی کشور صادر کننده، ذکر گردیده باشد.

(۲) احکام مندرج این ماده بالای محموله های مواد چوبی پروسس شده از قبیل تخته چندلا، تخته براده یی، تخته فارمیکا

سربښ، تودوخې او فشار څخه په ګټې اخیستنې سره تولید شوي وي، د تطبیق وړ ندي.

## د نباتي ورایتیو د واردېدو لپاره ځانګړي شرایط

**شپاړسمه ماده:**

(۱) د هغې ورایتۍ محموله چې واردول یې هېواد ته د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداري له لوري مجاز وي، د واردولو د اجازه لیک له ترلاسه کولو وروسته د مبدأ هېواد د نباتي روغتیا ساتنې له تصدیق لیک سره واردېدای شي.

(۲) که چېرې د نباتي ورایتۍ محموله بیا ځلې صادره شي، د مبدأ هېواد د نباتي روغتیا ساتنې د تصدیق لیک په لرلو سربېره، د بیا صادراتو لپاره د نباتي روغتیا ساتنې د تصدیق لیک لرونکې هم وي.

## د څېړنو په منظور واردول

**اووه لسمه ماده:**

هغه نباتات، نباتي محصولات او نور

که با استفاده از سرش، حرارت و فشار تولید گردیده، قابل تطبیق نمی باشد.

## شرایط خاص برای تورید ورایتی های نباتی

**مادۀ شانزدهم:**

(۱) محمولۀ ورایتی که تورید آن به کشور از طرف ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین مجاز باشد، بعد از کسب اجازه نامه تورید با تصدیقنامه حفظ الصحۀ نباتی کشورمبدأ، وارد شده می تواند.

(۲) هرگاه محموله ورایتی نباتی مجدداً صادر گردد، علاوه بر داشتن تصدیق نامه حفظ الصحۀ نباتی کشور مبدأ دارای تصدیق نامه حفظ الصحۀ نباتی برای صادرات مجدد نیز باشد.

## تورید به منظور تحقیقات

**مادۀ هفدهم:**

نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام

تنظیم شوي اقلام چې د علمي څېړنو په منظور هېواد ته واردېږي، په هغې جلا کړنلاره کې چې د نباتاتو د ساتنې او قرنطین د ادارې له لوري پدې منظور وضع کېږي، صورت مومي.

## د حشراتو صادرول

**اتلسمه ماده:**

حشرات او نور د بیولوژیکي کنترول لاملونه د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې له تصدیق وروسته تر ځانګړو شرایطو لاندې او د هغو د صادرېدو د موخې بررسي چې د نباتاتو د ساتنې او قرنطین په قانون کې درج شوي د نباتاتو د ساتنې او قرنطین د عالي کمېټې له لوري تأییدېږي، له هېواد څخه بهر ته صادرېږي.

## ترانزیت

**نولسمه ماده:**

هغه محمولې چې ترانزیت کېږي، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین د قانون په پنځلسمه ماده کې له درج شوو حکمونو سره سم، د هغو په هکله

تنظیم شده که به منظور تحقیقات علمی به کشور وارد می گردد، در طرزالعمل جداگانه که از طرف ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین به این منظور وضع می گردد، صورت می گیرد.

## صدور حشرات

**مادۀ هجدهم:**

حشرات و سایر عوامل کنترول بیولوژیکی بعد از تصدیق ادارۀ حفاظت نباتات و قرنطین تحت شرایط خاص و بررسی هدف صدور آن که از طرف کمیته عالی حفاظت نباتات و قرنطین مندرج قانون حفاظت نباتات و قرنطین تأیید می گردد، به خارج از کشور صادر می شود.

## ترانزیت

**مادۀ نزدهم:**

محموله های که ترانزیت می شود، مطابق احکام مندرج مادۀ پانزدهم قانون حفاظت نباتات و قرنطین در مورد آن اجراآت صورت

اجراآت صورت مومي.

## څلورم فصل

## د نباتي روغتيا ساتنې د تصديق ليک پلټنه، تجزيه او تحليل

### د نباتي محمولو پلټنه

**شلمه ماده:**

د هغو نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو محمولې چې هېواد ته وارد شوي د نباتاتو د ساتنې او قرنطين قانون په اتمه ماده کې له درج شـــوو حکمونو سره سم، تر پلټنې لاندې نيول کېږي.

### د لابراتواري تجزيې او تحليل لپاره د نمونې اخيستل

**يوويشتمه ماده:**

(۱) د نباتاتو د ساتنې او قرنطين ادارې پلټوونکی، د نباتي آفتونو د تجزيـــې او تحليل په منظور، لـــه نباتـــاتو، نبـــاتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامـــو څخه د نباتاتو د ساتنې او قرنطين قانون په پنځمه او اتمه ماده کې له درج شوو

می گیرد.

## فصل چهارم

## تفتیش، تجزیه و تحلیل تصدیق نامه حفظ الصحهٔ نباتی

### تفتیش محموله های نباتی

**مادهٔ بیستم:**

محموله های نباتـــات، محصـــولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شـــدهٔ کـــه وارد کشور شده مطابق احکام مندرج مادهٔ هشتم قانون حفاظت نباتـــات و قـــرنطین، مـــورد تفتـــیش قـــرار می گیرند.

### اخذ نمونه برای تجزیه و تحلیـــل لابراتواری

**مادهٔ بیست و یکم:**

(۱) مفتش ادارهٔ حفاظـــت نباتـــات و قرنطین از نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده به منظور تجزیه و تحلیل آفات نباتی، مطابق احکام مندرج مواد پنجم و هشتم قـــانون حفاظـــت نباتـــات و قـــرنطین نمونـــه اخـــذ

حکمونو سره سم، نمونه اخلي.

(۲) له نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو څخه د نمونې د اخيستلو ډول د نباتي روغتيا ساتنې د تدبيرونو د بين المللي معيارونو يو دېرشمه ګڼه لاربشود ته په کتو، په جلا کړنلاره کې تنظيمېږي.

## د نباتي روغتيا ساتنې تصديق ليک

دوه ويشتمه ماده:

(۱) هېڅ شخص نشي کولی، د نباتاتو ، نباتي محصولاتو او نورو تنظيم شوو اقلامو محمولې هېواد ته وارد کړي خو دا چې د هغې نباتي روغتيا ساتنې له تصديق ليک سره يوځای وي چې د مبدأ هېواد د واکمنې ادارې په واسطه او يا هغه هېواد چې محموله له هغه څخه دوه يم ځل صادرېږي.

(۲) شخص کولی شي، زينتي، نمايشي ګلونه، د ګل دسته يا تازه او وچه ميوه چې وزن يې له دوو کيلو څخه لږ وي د شخصي ګټې اخيستنې لپاره د واردېدو

می نماید.

(۲) طرز اخذ نمونه از نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده در طرز العمل جداگانه با نظرداشت رهنمود شماره سی و یکم معیار های بین المللی تدابیر حفظ الصحهٔ نباتی، تنظیم می گردد.

## تصدیقنامهٔ حفظ الصحهٔ نباتی

مادهٔ بیست و دوم:

(۱) هیچ شخص نمی تواند محموله های محصولات نباتی وسایر اقلام تنظیم شدهٔ نباتی را به کشور وارد نماید، مگر این که با تصدیقنامهٔ حفظ الصحهٔ نباتی ایکه توسط ادارهٔ با صلاحیت کشور مبدأ و یا کشوری که محموله از آن دوباره صادر می گردد، همراه باشد.

(۲) شخص می تواند گل های زینتی، نمایشی، دستهٔ گل یا میوهٔ تازه و خشک را که وزن آن کمتر از دو کیلو گرام باشد، جهت استفادهٔ شخصی

له اجازه لیک پرته هېواد ته وارد کړي.

(۳) هغه نباتات، نباتي محصولات او نور تنظیم شوي اقلام چې له افغانستان څخه نورو هېوادونو ته صادرېږي د هغو په هکله، د نباتاتو د ساتنې او قرنطین قانون په دیارلسمه ماده کې درج شوي حکمونه، تطبیقېږي.

## پنځم فصل

## له واردولو وروسته قرنطین او داخلي قرنطین

### له واردولو وروسته قرنطین

**دروېشتمه ماده:**

(۱) د هغو نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو لګښتونه چې له واردولو وروسته د قرنطیني تدبیرونو اړمن وي، له هغې جلا کړنلارې سره سم چې د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې له لوري تنظیمېږي، د واردوونکي پر غاړه دي.

(۲) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره د هغو نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو

بدون اجازه نامه تورید به کشور وارد نماید.

(۳) نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شدهٔ که از افغانستان به سایر کشور ها صادر می گردد، در مورد آن احکام مندرج مادهٔ سیزدهم قانون حفاظت نباتات و قرنطین، تطبیق می گردد.

## فصل پنجم

## قرنطین بعد از ورود و قرنطین داخلی

### قرنطین بعد از ورود

**مادهٔ بیست و سوم:**

(۱) مصارف نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شدهٔ که بعد از ورود نیازمند تدابیر قرنطینی باشند، مطابق طرزالعمل جداگانه که از طرف اداره حفاظت نباتات و قرنطین تنظیم می گردد، به عهدهٔ تورید کننده می باشد.

(۲) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین برای نباتات، محصولات نباتی و سایر

تنظیم شوو اقلامو لپاره چې له واردېدو څخه وروسته د قرنطیني تدبیرونو اړمن وي، هغه اجازه لیک چې په هغه کې د هر محصول لپاره د درملنې موده او حالات مشخص شوي وي، صادروي.

(۳)د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو لپاره قرنطیني تأسیسات له واردېدو وروسته د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې په تائید له جلا کرنلارې سره سم، تنظیم او رامنځته کېږي.

(۴) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره، د هغو نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو د محمولو لپاره چې له واردولو (داخلي قرنطین) وروسته د قرنطیني تدبیرونو اړمن وي، د نظر وړ محمولې د څارنې او درملنې د مودې د ځای په اړه قرنطیني تصدیق لیک د اجازه لیک د مندرجاتو پربنسټ، صادروي.

(۵) پلټوونکی مکلف دی، د قرنطیني آسانتیاوو په اړه له واردېدو وروسته چې د نباتي آفت په خپرېدو پورې اړوند

اقلام تنظیم شده که نیازمند تدابیر قرنطینی بعد از تورید باشد، اجازه نامه را که مدت و حالات تداوی برای هر محصول در آن مشخص شده باشد، صادر می نماید.

(۳) تاسیسات قرنطینی برای نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده بعد از تورید به تائید ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین مطابق طرزالعمل جداگانه تنظیم و ایجاد می گردد.

(۴) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین، برای محموله های نباتاتی، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده که بعد از ورود(قرنطین داخلی ) نیازمند تدابیر قرنطینی باشند، تصدیق نامه قرنطینی راجع به محل مدت نظارت و تداوی محموله مورد نظر را بر اساس مندرجات اجازه نامه، صادر می نماید.

(۵) مفتش مکلف است در مورد تسهیلات قرنطینی بعد از تورید که مربوط به انتشار آفت می باشد، غرض

دي، له هغو شخه د مخنيوي په غرض، د لاندې مواردو په اړه پوهاوی ولري:

۱- د نبات د کښت د نېټې په هکله خبرول.

۲- د اړتيا په صورت کې له واردولو وروسته له قرنطيني پلټنې څخه وروسته د محمولو جداکول يا کلي يا جزئي له منځه وړل.

۳- په هر وخت کې له واردولو څخه وروسته په قرنطيني تأسيساتو د لاسرسي لپاره د نباتاتو د ساتنې او قرنطين ادارې پلټوونکي ته اجازه ورکول.

۴- له واردولو څخه وروسته د محمولې په ځای پورې اړوند معلومات.

۵- د اجازه ليک د مندرجاتو پربنسټ د نظر وړ څارنې او درملنې موده.

(٦) که چېرې نباتات، نباتي محصولات او نور تنظيم شوي قرنطيني اقلام چې هېواد ته وارد شوي په آفتونو او نباتي ناروغيو ککړ وي، پلټوونکی د لاندې اقداماتو په ترسره کولو مکلف دی:

۱- د درملنې په اړه واردوونکي ته د

جلوگيری از آن راجع به موارد ذيل آگاهی داشته باشد :

۱- اطلاع در مورد تاريخ کشت نبات.

۲- جدا سازی يا محو کلی يا جزيی محموله ها پس از تفتيش قرنطينی بعد از ورود در صورت ضرورت.

۳- دادن اجازه به مفتش ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطين جهت دسترسی به تاسيسات قرنطينی بعد از ورود، در هر زمان.

۴- معلومات راجع به محل محموله بعد از ورود.

۵- مدت نظارت و تداوی مورد نظر بر اساس مندرجات اجازه نامه.

(٦) هرگاه نباتات، محصولات نباتی و ساير اقلام تنظيم شدهٔ قرنطينی که وارد کشور شده به آفات و امراض نباتی ملوث باشد، مفتش مکلف به انجام اقدامات ذيل می باشد:

۱- دادن مشوره به تورید کننده در

مشورې ورکول په هغه صورت کې چې آفت یا نباتي ناروغي وروسته کنترول او له منځه یوړلای شي.

۲- د له منځه وړلو دستور ورکول او د هغې د له منځه وړلو د لارې مشخصول .

(۷) د پلټنې مسؤول، له واردېدو وروسته، د نباتاتو، نباتي محصولاتو او نورو تنظیم شوو اقلامو اجازه لیک له قرنطیني تأسیساتو څخه په هغه صورت کې صادروي چې له آفتونو او نباتي ناروغیو څخه پاک وي.

(۸) د قرنطیني آفتونو د تشخیص لپاره د نباتاتو او نباتي محصولاتو دایمي او موقتي زېرمو پلټنه د داخلي قرنطین د مسؤولینو په واسطه صورت مومي.

(۹) پلټوونکی مکلف دی د قرنطین د پلټنې لیکلی راپور له واردېدو وروسته لاسلیک کړي او د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې ته واستوي.

مورد تداوی در صورتی که آفت یا مرض نباتی بعداً کنترول و از بین برده شده بتواند.

۲- دستور دادن به محو و مشخص نمودن شیوه محو آن.

(۷) مسؤول تفتیش، بعد از توريد، اجازه نامه خروج نباتات، محصولات نباتی و سایر اقلام تنظیم شده را از تاسیسات قرنطینی در صورتی صادر می نماید که عاری از آفات و امراض نباتی باشد.

(۸) تفتیش ذخایر دایمی و مؤقتی نباتات و محصولات نباتی جهت تشخیص آفات قرنطینی توسط مسؤولین قرنطین داخلی صورت می گیرد.

(۹) مفتش مکلف است راپور کتبی تفتیش قرنطین را بعد از توريد امضاء نموده به ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین ارسال نماید.

**د نباتي قوريو پلټنه او ثبت**

**څلېرویشتمه ماده:**

**(۱) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره مکلفه ده، نباتي قوريي د نباتي آفت د تشخیص په غرض وخت په وخت، وپلټي.**

**(۲) حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي، خپلې قوريې د نباتاتو د ساتنې او قرنطین په تر ټولو نژدې ادارې کې ثبت کړي.**

**د نباتي آفتونو له څرګندېدو څخه اطلاع ورکونه**

**پنځه ویشتمه ماده:**

**(۱) بزګران او د نباتاتو او نباتي محصولاتو مالکان مکلف دي، په خپلو کروندو(مزارعو)، قوريو او بڼونوکې د نباتي آفتونو له څرګندېدو څخه د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارو ته په لنډ وخت کې خبر ورکړي.**

**(۲) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین اداره مکلفه ده، ددې مادې په (۱) فقره کې د درج شوو نباتي آفتونو له څرګندېدو**

**تفتیش و ثبت قوریه های نباتی**

**مادهٔ بیست و چهارم:**

**(۱) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است قوریه های نباتی را غرض تشخیص آفت نباتی وقتاً فوقتاً، تفتیش نماید.**

**(۲) اشخاص حقیقی و حکمی مکلف اند، قوریه های خویش را در نزدیکترین ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین ثبت نمایند.**

**اطلاع دهی از بروز آفات نباتی**

**مادهٔ بیست و پنجم:**

**(۱) دهاقین و مالکین نباتات و محصولات نباتی مکلف اند، ادارات حفاظت نباتات و قرنطین را از بروز آفات نباتی در مزارع، قوریه ها و باغ های خویش به اسرع وقت اطلاع دهند.**

**(۲) ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین مکلف است حین دریافت اطلاع از بروز آفات نباتی مندرج فقره (۱) این**

ځخه د اطلاع د ترلاسه کولو په وخت کې، د هغو له خپرېدو ځخه د مخنیوي لپاره، لاندې اقدامات ونیسي:

۱- په آفتونو د ککړې سیمې ټاکل او اعلان او د ککړتیا د سرچینې له نظره د هېواد د سیمو تقسیم بندي.

۲- غیرککړو سیمو ته له ککړو سیمو ځخه د نباتاتو او نباتي محصولاتو د حمل او نقل ممنوعیت.

۳- د آفت د لومړنۍ سرچینې د له منځه وړلو لپاره د اغېزمنو او فوري تدبیرونو نیول.

ماده، جهت جلوگیری از انتشار آن، اقدامات ذیل را اتخاذ نماید:

۱- تعیین و اعلان ساحهٔ ملوث به آفات و تقسیم بندی ساحات کشور از نظر منبع آلودگی.

۲- ممنوعیت حمل و نقل نباتات و محصولات نباتی از ساحات ملوث به ساحات غیر ملوث.

۳- اتخاذ تدابیر مؤثر و فوری جهت از بین بردن منبع اولی آفت.

## شپږم فصل

## وروستني حکمونه

### د ضد عفوني خونې جوړول

**شپږویشتمه ماده:**

حقیقي او حکمي اشخاص مکلف دي، د اجازې له اخیستلو وروسته، د ضد عفوني خونې(فوموګېشن) د نباتاتو د ساتنې او قرنطین ادارې تر ځارنې لاندې رامنځته کړي.

## فصل ششم

## احکام نهایی

### اعمار اتاق ضد عفونی

**مادهٔ بیست و ششم:**

اشخاص حقیقی و حکمی مکلف اند، اتاق های ضد عفونی (فوموگیشن) را بعد از اخذ اجازه، تحت نظارت ادارهٔ حفاظت نباتات و قرنطین ایجاد نمایند.

## د کړنلارو او لایحو وضع

**اووه ویشتمه ماده:**

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت کولی شي، ددې مقررې د حکمونو د ښه تطبیق په منظور، کړنلارې او لایحې وضع کړي.

**انفاذ**

**اته ویشتمه ماده:**

دغه مقرره په رسمي جریده کې د خپرېدو له نېټې څخه نافذېږي.

## وضع طرزالعمل ها و لوایح

**مادۀ بیست وهفتم:**

وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می تواند، جهت تطبیق بهتر احکام این مقرره، طرزالعمل ها و لوایح را وضع نماید.

**انفاذ**

**مادۀ بیست و هشتم:**

این مقرره از تاریخ نشر در جریدۀ رسمی نافذ می گردد.

## اشتراک سالانه:

درمرکز وولایات: (۱۰۰۰)افغانی

برای مامورین دولت: با (۲۵) فیصد تخفیف

بـــرای متعلمین ومحصلین با ارائـــه تصدیق،نصف قیمت

برای‌کتاب فروشی‌ها با ۱۰فیصد تخفیف ازقیمت‌روی جلد

خارج از کشور: (۲۰۰) دالر امریکائی.

# ISLAMIC REPUBLIC
# OF
# AFGHANISTAN
# MINISTRY OF JUSTICE

# OFFICIAL GAZETTE

- **Amendment and Annulment to some Articles of the Law on Railroad**
- **Amendment and Annulment of some Articles of the Law on Road Transport**
- **Regulation on Plant Protection and Quarantine**
- **Regulation on Salaries and Privileges of Academic Cadres of Higher Educational Institutions**

**Date:21th April.2019**
**ISSUE NO:(1345)**